سلطان جان کلیوال
۲۰۲۰/۱۱/۰۵

# خـــاورې!

تاسـره مـی میـنه ده ، دبحـر د ځـپـو په شـــان
ته را باندی ګرانه یی، دمور او دپښتو په شان

ځـو چې سـمندر سره ځپـې وي، زه یم تاسـره
ته می خوره شوی یی، وجود کی د رګو په شان

تاسـره دردونه کـړاوونه، ټـول زغـمـلـی شــم
بی له تا ورکیـږم په رڼا کی ، دتیـارو په شــان

زه لکه ماشوم چی را لوئیږی، د مور غیږه کی
یمه را لوې شوي، ستا د غرونو دځنګلو په شان

خاوره د وجود می ، خاورې تانه جوړه شویده
ستا بچي ښکلا ده، ستا د پاره ګل غونچو په شان

مور می یی وطنه! بی له تانه، زه هیڅوک نه یم
وږي به می بادونه، هرې لور ته د وښو په شان

ته زما تقدیر، زما ژونـدون، زما وجـود ته یـی!
ګران یی راته ډیر وطنه،پلار په شان نیکو په شان

بی له تا دی نه شی کلیوال د بلې خاورې زوی
غیږ ته دی را مه شه، خپل بچی لکه پردو په شان

نومبر/۳/۲۰۲۰ ایجکس – تورنتو . کاناډا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ